د کمیس بیاتی کول

د کمیس د بیاتی کولو لپاره لمړی ۱٦۰ سانتی متره ټوکر دوه قاته کوو چی د هر قات اوږدوالی ئی ۸۰ سانتی متره کیږی . بیا د بیاتی په ذریعه د شا او مخ تخته تری بیلوو .

د ټوکر د پسور څخه ۵۰ سانتی متره د کمیس لپاره ایستل کیږی . د پاتی ټوکر نه چی ۲٦ سانتی متره پسور او ۱٦۰ سانتی متره اوږدوالی لری ، د کمیس چپه یخن ، شانه پټی ، د لستونو کفی ، جیبونه ، د جیبونو خولی ، د غاړی لایه او کوچنی اوږدی پټی بیاتی کیږی .



د کمیس د مخ تختې نه چې اوږدوالی ئې ۸۰ سانتي متره او پسور ئې ۲۵ سانتي متره دی ۰ چپه یخن او شانه پټي او د کمیس د شا تختې نه چې اوږدوالی ئې ۸۰ سانتي متره او پسور ئې ۲۵ سانتي متره دی ، دوه جیبونه ، دوه د جیبونو خولې ، دوه د لستونو کفې او د غاړې اوږدې ۰ پلنې او نرۍ پټې جوړیږي . لاندنی شکل وګورئ .



وروسته بیا د ٤۰ سانتي متره توکر څخه لستوڼي بیاتې کیږي .

په لاندنی شکل کې د کمیس ټولې برخې ښودلې شوي دي :



کمیس گنډل

کمیس گنډل د لاندنی طریقی سره سم مرحله په مرحله ترسره کیږی .

۱ـ د غاړی اوږده نری پټه

۲ـ د غاړی اوږده پلنه پټه

۳ـ جیبونه

٤ـ د جیبونو خولی

٥ـ شانه پټی

٦ـ د شا او مخ تختو یوځای کول

۷ـ د اوږو د سر پټی

۸ـ د لستونو جوړول او کفی ورکول

۹ـ د لمنی قات کول

لمړی د غاړی نری پټه او وروسته د غاړی پلنه پټه گنډل کیږی .

لاندنی شکل دی وکتل شی :



کله چې پټی وګنډلی شوی ، د کمیس د مخ تخته د غاړی د پټی په بیخ کی قات کیږی او جیبونه باید پر نومړی قات شوی خط باندی داسی وګنډل شی چی د جیب بیخ په قاتی شوی لیکی باندی برابر راشی . د غاړی د پټی دوی خواوی د دوو ګوتو په اندازه پرېښودلی کیږی .

وروسته د شا پر تختی باندی کار پیل کیږی او د شا د تختی په دواړو خواو کی دوه پلیتونه اچول کیږی او شانه پټی ګنډل کیږی .



وروسته د شا او مخ تختې سره يوځاى كيږى او د اوږو پر سر پټى اينبودل كيږى .



پدې وخت كې لستونې او د لستونو خولې جوړيږى او كميس سره يوځاى كيږى .



وروسته بیا چپه یخن او په پای کی د کمیس لمن قاتیږی . د کمیس د مخ پر تختی باندی دری بتهنونه ، د غاړی پر پتی باندی دوه بتهنونه او د کمیس پر لستونو باندی دوه دوه بتهنونه ایښودل کیږی .



یادونه : څرنګه چی زموږ د هیواد زیاتری ښځی سواد نلری نو د کمیس او پرتوګ د بیاتی کولو لپاره دی د لاس د لویشتو نه کار واخلی چی پنځه لویشتی په تقریبی ډول د ۱۰۰ سانتی مترو یا یو متر سره برابری دی .

ښځی دی د کالیو د بیاتی کولو لپاره د کاغذ نه د بیاتی شویو پاتهنونو څخه کار واخلی .

بشپړ شوی کمیس او پرتوګ



د نجونو د ښوونځي يونيفورم

د لمړي ټولګي لپاره د اړتيا وړ ټوکر :

۱۵۰ سانتي متره د پرتوګ لپاره

د کميس لپاره د اړتيا وړ مواد :

۱۲۲ سانتي متره ټوکر ، پنځه بټنونه او تار .

د پرتوګ بياتي کول :

لمړی ۱۵۰ سانتي متره ټوکر په اوږدو کي قات کوو او بيا د ټوکر د پسور څخه د ۱۸ سانتي مترو په اندازه يوه ټوټه ، د کميس د لستونو لپاره باسو . لاندني شکل وګوری :



وروسته د پرتوګ ټوکر په پسور کي په نيمائي باندی قاتيږی او پرتوګ بياتي کيږی .

د هغه بياتي شوی ټوکر نه چي د پرتوګ د پايڅو څخه تر چاټ پوری ايستل کيږی ، د کميس د لستونو کفي او د کميس د غاړی فيته جوړيږی .

د پرتوګ ګنډل

لمړی د دواړو پایڅو د چاپېړ درزونه ګنډل کیږی او وروسته د پایڅو خولی د ۵ سانتی مترو یا د دوو کوتو په اندازه قاتیږی او بخی کیږی . وروسته باید د پرتوګ بېړه هم د پرتوګ د پایڅو د خولی په اندازه یعنی ۵ سانتی متره یا دوه کوتی قات شی .



د کمیس بیاتی کول

لمړی د ۹۲ سانتی مترو په اوږدوالی ټوکر څخه د کمیس دوه تا لمن چی هره تا ئی ٤٦ سانتی متره اوږدوالی او ۸۲ سانتی متره پسور ولری ، ایستل کیږی .

وروسته بیا د کمیس د مخ او شا ټټر د ۲۰ سانتی مترو په اوږدوالی او د ۸۲ سانتی مترو په پسور ایستل کیږی . یعنی د کمیس د مخ د ټټر اوږدوالی باید ۲۰ سانتی متره او پسور ئی ۲۵ سانتی متره وی او د کمیس د شا د ټټر اوږدوالی باید ۲۰ سانتی متره او پسور ئی ٤۷ سانتی متره وی .

د کمیس د شا ټټر د بیاتی کولو لپاره داسی ټوکر چی ۲۰ سانتی متره اوږدوالی ولری ، په پسور کی په نیمائی باندی قات او بیاتی کیږی او د شا ټټر د هری پلی اوږدوالی باید ۲۰ سانتی متره او پسور ئی ۲۲،۵ سانتی متره وی .



د کالي گنډلو لاسي ماشين

مخکې لدې چې د کاليو په گنډلو پيل وشي يوه اندازه د ماشين تيل دې د ماشين په هغو ځايونو
کې واچول شي کوم چې په شکل کې ښودل شوي دي . وروسته دې ماشين ته تار ور واچول شي .
پدې ډول چې د تار گوټک د ماشين په پورتنۍ برخه کې اېښودل کيږي او تار لکه څرنگه چې په
شکل کې ښودل شوي دي ، په منظم ډول ماشين ته ور اچول کيږي .
هيره دې نشي چې د ماشين ستنې ته د تار د اچولو او د کار د پيل کولو نه مخکې ، هغه ميله چې
د ماشين په مخ کې موجوده ده او تار پکښې تيريږي بايد جگه ولاړه وي . ځکه که چيرې نوموړې
ميله کښته وي تار له ستنې څخه وځي .



د کمیس لستونی د پرتوګ څخه د ایستل شوی توکر نه چی اوږدوالی ئی ۱۵۰ سانتی متره او پسور ئی ۱۸ سانتی متره دی ، جوړیږی ۰

د لستونو کفی او د غاړی فیته د پرتوګ د بیاتی شوی توکر نه کوم چی د پرتوګ د پایڅو څخه تر چاټ پوری وتلی دی ، جوړیږی ۰

پاتی دی نه وی چی د کمیس د لستونو اوږدوالی باید ۲۵ سانتی متره او پسور ئی ۱۸ سانتی متره وی ۰

کمیس گنډل

لمړی د کمیس د شا ټټر هره پله ، د غاړی نه تر کښته پوری د یوی گوتی په اندازه قاتیږی او بخی وریاندی کیږی . بیا د ټټر د شا دواړه پلی سره یوځای کیږی او د کمیس د مخ ټټر سره د اوږو په سرونو کی گنډل کیږی او وروسته د غاړی فیته وریاندی گنډل کیږی . د شا ټټر او مخ ټټر په لاندنی برخه کی چی د لمن سره یوځای کیږی ، سیټونه اچول کیږی . وروسته د لستونو کفی گنډلی کیږی او بیا لستونی د ټټر سره گنډلی کیږی . په پای کی د کمیس لمن ته چین ورکول کیږی او د ټټر سره گنډل کیږی . بیا د کمیس لمن د دوو گوتو په اندازه قاتیږی او بشپړ شوی کمیس لاندنی شکل ځان ته غوره کوی :



یادونه : د کمیس د شا په ټټر باندی دری بټنونه او د لستونو پر کفو باندی دوه دوه بټنونه اینبودل کیږی .

کوچنی کمیس

د اړتیا وړ مواد : ۵۰۰ سانتي متره ټوکر ، افغاني روغ شوی ټټر ، ځنځیر او تار .

بیاتي کول : لمړی د ۲۰۰ سانتي متره ټوکر ټخه چې اوږدوالی ئې ۱۰۰ سانتي متره او پسور ئې ۸۰ سانتي متره وی ، دری تا لمنی ایستلی کیږی .



بیا د ۸۸ سانتي متره ټوکر ټخه د ٤٤ سانتي مترو په اوږدوالی او د ۵۷ سانتي مترو په پسور د ټټر د مخ تخته او د ٤٤ سانتي مترو په اوږدوالی او ٦۰ سانتي مترو په پسور د ټټر د شا تخته ایستله کیږی .





دوهمه برخه

وریسی د هغه ټوکر ځخه چی ۱۱۲ سانتی متره اوږدوالی ولری ، د کمیس دوه لستونی چی د هری لستونی اوږدوالی ئی ٥٦ سانتی متره او پسور ئی ۷۰ سانتی متره وی ، جوړیږی ۰



د هغه ټوکر ځخه چی د تټر او لستونو د پسور نه وځی ، د غاړی د استرونو لپاره کار اخیستل کیږی ۰

PROPERTY ACKU

د کمیس گنډل

لمړی د کمیس د مخ تختی غاړه چی په افغانی هنر سره جوړه شوی ده چمتو کیږی ، بیا د شا ټټر خنځیر جوړیږی او وروسته لدی چی د شا ټټر دواړه پلی سره یوځای شوی ، د مخ ټټر سره د اوږو په سرونو کی کنډل کیږی ، وریسی لستونی جوړیږی او په افغانی خامکو سره جوړی شوی فیتی د کمیس د لستونو په خولو کی ایښودلی کیږی . له هغه وروسته لستونی د ټټر سره یوځای کیږی او بیا د کمیس لمن ته چین ورکول کیږی او د ټټر سره یوځای کیږی . پدی وخت کی د کمیس لمن د څلورو کوتو په اندازه قاتیږی او په افغانی هنر چرمی ورباندی ماتیږی او جوړ شوی کمیس لاندنی شکل ځان ته غوره کوی :

خامك گنډل

خامك گنډل هغه هنر دی چی افغانی نجونی د لږ عمر نه د هغه په زده کولو لاس پوری کوی ·

د خامك گنډلو کار د ټوکر د لنډو او اوږدو تارونو په شمیرلو سره ترسره کیږی · ځکه نو خامك تل په هغه ټوکر باندی چی لنډ او اوږده تارونه ئی ولیدل شی یعنی تارونه ئی ډیر نازك او بریښیدونکی نه وی ، روغیږی ·

دغه ډول خامکو ته چپه خامك هم ویل کیږی · د دی لپاره چی دغه ډول خامکی ډیری ښکلی ، ظریفی او بریښیدونکی راشی ، په چپه مخ گنډل کیږی ترڅو ټول اضافه تارونه او غوټی ئی په چپه مخ کی پاتی شی او راسته مخ ئی ښکلی ، صاف او بریښیدونکی راشی ·

د اړتیا وړ مواد :

داسی ټوکر چی تارونه ئی د شمیرلو وړ وی ، سنډ ، ستن او سرانگشته ·



د کتاب د دوهمې برخې (خامك گنډلو) د مطالبو فهرست

عنوان	پاڼه
خامك گنډل	۲۵_۲۷
د بالاتنې بياتي کول	۲۸
د بالاتنې گنډل	۲۹
اوږده لستوڼي لرونکې بالاتنې	۳۰
سرميزي	۳۱
د ښځو شال	۳۲
د ښځو د غاړې دستمال	۳۳
د نارينه پټو	۳٤

د خامك ګنډلو د هنر زده کول لمړی د مستقیمو میلانو یا لیکو په ګنډلو سره پیل کیږی ، وروسی ورو ورو د آسانو او ساده ډیزاینونو په ګنډلو لاس پوری کوی ترڅو د مغلقو او پیچلیو ډیزاینونو ګنډلو ته ورسیږی . دغه خامکی زیاتره په سپینواتی سُنډو سره چی بریښیدونکی دی ، ګنډلی کیږی .





چپه دوزی خامکی مختلفی نمونی لری چی د ځینو نمونو نومونه ئی په لاندی ډول دی :

کوکناری ، بس ، برگ شفتل ، لسی او داسی نور .

خامکی په مختلفو څیزونو باندی گنډلی کیږی لکه د بالاتنو لپاره غاړی ، سرمیزی ، د ښځو شال ، د نارینه شال او داسی نور .







بالاتنی

د دوو ډولو بالاتنو بیاتی کول او کنډل :

۱ـ د لنډو لستونو لرونکی بالاتنی

۲ـ د اوږدو لستونو لرونکی بالاتنی

د لنډو لستونو لرونکی بالاتنه :

د لنډو لستونو لرونکی بالاتنی لپاره ۲۰۰ سانتی متره یو بره ټوکر ته اړتیا شته .

بیاتی کول :

۲۰۰ سانتی متره ټوکر په اوږده توګه په منځ کی قاتوو . وروسته ټوکر په پسور کی هم دوه قاته کیږی او د ځلورو ګوټو یا ۷ سانتی مترو په اندازه د لمن څخه د قول تر بیخه پوری بیاتی کیږی چی د لاس ته راغلی اضافی ټوکر نه د غاړی د استرونو لپاره کار اخیستل کیږی .



د بالاتنی گنډل

لمړی د غاړی مخ او د شا استرونه ورکول کیږی . بیا د اوږو او وریسی د بغل درزونه ورکول کیږی . په پای کی لمن قاتیږی . لاندنی شکل وګوری :



تلتك جوړول

د اړتیا وړ مواد :

۱ــ (۵۰۰) سانتي متره ککداره دوه بره ټوکر

۲ــ (٤،۵) کیلو گرامه پخته

۳ــ د تلتك گنډلو غټه ستن

٤ــ تار .



د اوړدو لستوڼو لرونکی بالاتنه

د اوړدو لستوڼو لرونکی بالاتنی لپاره ۲۵۰ سانتي متره ټوکر ته اړتیا شته

<u>بیاتي کول :</u>

لمړی ۲۰۰ سانتي متره ټوکر په اوږدوالی او وروسته په پسور باندی په منځ کی قاتوو او د ۷ سانتي مترو یا څلورو گوټو په اندازه ئی د بغل څخه د قول تر بیخه پوری بیاتي کوو چی د بیاتي شوی ټوکر نه د غاړی د استرونو لپاره کار اخیستل کیږی . د پنځوس سانتي متره پاته شوی ټوکر نه دوه مساوی حصی جوړیږی او په اوږدوالی او پسور باندی قاتیږی او لستوڼی تری بیاتي کیږی .



<u>د گنډلو طریقه :</u> لمړی غاړی ته استر ورکول کیږی . بیا لستوڼی ، وروسته د اوږو سرونه او وریسی د بغل درزونه گنډل کیږی . بیا د لستوڼی خولی قات کیږی او په پای کی د بالاتنـی لمن قات کیږی . لاندنی شکل وگوری :



سرمیزی

د سرمیزی لپاره دوه بره توکر ته چی دری متره اوږدوالی ولری ، اړتیا شته ترڅو د هغه د ۲۵۰ سانتی مترو نه سرمیزی او د ۵۰ سانتی مترو نه ئی ۶ دستمالونه جوړ شی .

د سرمیزی په څلورو خواو کی چپه خامك کیږی او یا تول په گراف باندی ډك کیږی او د دستمال په یوه کنج کی یو گل روغیږی .



د ښځو شال

د ښځو د شال لپاره یو بره ټوکر ته چې اوږدوالی نی ۲۵۰ سانتی متره وی ، اړتیا شته او شال د پسور له نظره په دواړو خواو کی چپه خامك کیږی .

دریمه برخه

د ښځو د غاړې دستمال

د ښځو د غاړې دستمال،لپاره داسي ټوکر چې اوږدوالی ئې ۲۵۰ سانتي متره او پسور ئې ٤۰ سانتي متره وي ، د پسور له نظره په دواړو خواو کي چپه خامك کيږي .



د نارینه پټو

د نارینه پټو د دوه بره تهوکر ښخه چی اوږدوالی ئی ۲۵۰ سانتی متره وی ۰ جوړیږی او په پسور باندی د پټو په دواړو خواو کی چپه خامك کیږی ۰





صابون جوړول

د اړتیا وړ مواد : فلزي لگن ، د لرگي لاستي ، کاستر سوډا ، غوړي ، اوړه او یو گیلاس اوبه

د دوه کیلو صابون جوړولو لپاره د اړتیا وړ موادو اندازه : یو کیلو غوړي ، نیم کیلو اوړه ، ۱/٤ کیلو کاستر سوډا ، یو گیلاس اوبه او د اور لگولو مواد (گیس ، بریښنا ، لرگي ، تیلي اشتوب) . لاندني شکل وگورئ :



د کتاب د دریمی برخی (صابون جوړولو) د مطالبو فهرست

عنوان	پاڼه
د صابون جوړولو لپاره د اړتیا وړ مواد	۳۵
د صابون جوړولو طریقه	۳۶_۳۸

د صابون جوړولو طریقه

لمړی یو گیلاس اوبه په هغه فلزی لوښی کی اچول کیږی کوم چی په اور باندی ایښودل شوی دی .

وروسته ټاکلی اندازه کاستر سوډا په اوبو کی اچول کیږی او حل کیږی .

بیا غوړی اچول کیږی .



وریسی اوره ورو ورو وریاندی اچول کیږی او د لرگی د لاستی په ذریعه سره لړل کیږی .

بیا په لاس سره لړ لړ اوبه وریاندی پاشل کیږی .



ترخو چې مواد کلك او صابون جوړولو ته تيار شي . بيا لاس ته راغلې ماده د يوې ورځې لپاره په لوښي کې پريښودله کيږي او وروسته د چاقو په ذريعه په منظم ډول پرې کيږي او د استفادې وړ گرځي .

ياودنه : کولای شو چې د ځينو عطرياتو په زياتولو سره د دغې مادې نه د حمام صابون هم جوړ کړو . په پورتنې ډول د لاس ته راغلې صابون نه د هر ډول کاليو د پاك کولو ، لاس مينځلو او حمام کولو لپاره کار اخيستل کيږي .

ليکونکی : انجنير سعديه
سی ، آر ، اس ـ پاکستان پروګرام

By : Engineer Sadia
CRS Pakistan Program

د تلتك ډك كول : لمړی دی پخته پاكه كړل شی او د لښتی په ذريعه دی وټكوله شی .



وروسته دی پنځه متره ټوکر په منځ کی قات کړل شي او دواړه خواوی ئی په ماشین یا د لاس په ستنی سره وگنډلی شي . بیا دی نوموړی گنډل شوی ټوکر د پاکی او ټکول شوی پختی نه ډک کړل شي او خوله ئی د ستنی په ذریعه وگنډله شي .

وروسته دی تلتك پر اواری ځمکی باندی وغوړول شي او په لښتی سره دی وټکول شي ترڅو پخته د تلتك ټولو برخو ته په مساوی او منظمه توگه ورسیږی .



د تلتك گنډل

د تلتك د گنډلو په پیل کی باید لمړی د تلتك په منځ کی یوه لیکه وگنډله شي او بیا د تلتك دواړو خواو ته د لیکو په گنډلو پیل وشي . په تلتك کی د ۱۵ نه تر ۱۸ پوری لیکی گنډلی کیږی . د هر دوو لیکو ترمنځ فاصله باید مساوی وی او د لاس په گوتو سره اندازه شي .

د بشپړ شوی تلتك اندازه باید ۲،۴۵ متره ، پسور ئی ۱٤۰ سانتی متره ، د پختی وزن ٤،۲ کیلو گرامه او د گنډل شویو لیکو شمیر د ۱۵ نه تر ۱۸ لیکو پوری وی .

یادونه : بشپړ شوی تلتکونه دی د کیمپونو څخه تحویلخانی ته انتقال شي .

د هلکانو د ښوونځي یونیفورم

د پنځم ټولګي لپاره د اړتیا وړ ټوکر :

۱ــ ۲۲۰ سانتي متره یو بره ټوکر د پرتوګ لپاره

۲ــ ۲۰۰ سانتي متره یو بره ټوکر د کمیس لپاره

د پرتوګ بیاتي کول :

د پرتوګ د بیاتي کولو لپاره لمړی تانونه په ټاکلی اندازه قات کیږی .

لمړی د پرتوګ کوچنی یا لنډه تا د هلك د پښی د بجلکی ځخه تر بډی پوری اندازه کیږی چی تقریبی اندازه ئی یو متر او یا د اندازه نیولو پر فیتی باندی ۹۰ سانتی متره کیږی . ټوکر د پسور له نظره پر دریو مساوی برخو باندی ویشل کیږی چی د دوو برخو نه ئی د پرتوګ دوه پایڅی جوړیږی . لاندنی شکل وګوری .



د پرتوگ اوږدوالی نژدې ۱٤۰ سانتي متره نيول کيږي چې په هغه کې ۹۰ سانتي متره د پرتوگ اوږدوالی او ۵۰ سانتي متره د پرتوگ چاڼ دی . بيا د ټوکر د پسور څخه ۱۵ سانتي متره د پايڅو د خولې د استرونو لپاره ايستل کيږي . پاتې ټوکر چې اوږدوالی ئې ۱٤۰ سانتي متره دی ، په منځ کې پر دوو مساوي برخو باندې قات کيږي . وروسته د چاڼ برخه چې ۵۰ سانتي متره اوږدوالی لري لمړی د پورته خوا او بيا د لاندې خوا نه پر پسور باندې د څلورو گوټو په اندازه چې نژدې ۷ سانتي متره کيږي ، بياتې کوو . لاندنی شکل وگورئ .



د پرتوګ ګنډل

د پرتوګ ګنډلو لپاره لمړی دوی اوږدی تاکانی د یوی لنډی تا په دواړو خواو پوری ګنډل کیږی چی لاندنی شکل ځان ته غوره کوی .



وروسته دواړی پایڅی په لاندی ډول سره یو ځای کیږی .



وروسته بیا بډه قاتیږی او استرونه د دوو گوتو یا ٤ سانتی مترو په اندازه پایڅو ته غبرگ اچول کیږی .

د خیاطۍ ، خامك گنډلو او صابون جوړولو

د کورس رهنما

د یونسکو د پروژې دفتر کوټه ، پاکستان

د ۲۰۹ \ AFG \ ۲۰ پروژه

د خیاطی ، خامك گنډلو او صابون جوړولو

د کورس رهنما

PROPERTY

۱ـ لمړی برخه : خیاطی

۲ـ دوهمه برخه : خامک گنډل

۳ـ دریمه برخه : صابون جوړول

Unesco Project Office Quetta, Pakistan
Project 209/AFG/20

چاپونکی :

د افغانستان لپاره د یونسکو د پروژی دفتر

پست بکس ۲۱۷ د عمومی پست دفتر

کویټه ۸۷۰۰۰ ، پاکستان

فبروری ۱۹۹۳

کومی نظریی چی په دی کتاب کی بیان شوی دی حتمی نه ده چی د یونسکو د رسمی موقف سره اړه ولری او داسی قصد نه دی شوی چی دغه نظریی دی د یو هیواد او یا یوی سیمی د یو ټاکلی سرحد او قلمرو سره ارتباط ولری .

لمړی برخه

د کتاب د لمړی برخی (خیاطی) د مطالبو فهرست

عنوان	پانه
د کالی گنډلو لاسی ماشین	۱
تلتك جوړول	۲
د تلتك ډك كول	۳_٤
د تلتك گنډل	۵
د هلكانو د ښوونځی یونیفورم	٦_۷
د پرتوگ گنډل	۸_۹
د كمیس بیاتی كول	۱۰_۱۱
د كمیس گنډل	۱۲_۱۵
بشپړ شوی كمیس او پرتوگ	۱٦
د نجونو د ښوونځی یونیفورم	۱۷
د پرتوگ گنډل	۱۸
د كمیس بیاتی كول	۱۹_۲۰
د كمیس گنډل	۲۱
كوچنی كمیس	۲۲_۲۳
د كمیس گنډل	۲٤